# د جنسي اړيکو له لارې ليږددونکی عفونتونه – سوزاک او کليميډيا

سوزاک او کليميډيا عام جنسي ليږددونکی عفونتونه دي، دا عفونتونه د نه خوندي جنسي اړيکو له لارې انتقال کېږی او کولی شی چې جدي روغتيايی ستونزې رامنځه ته کړي. په منظم ډول خپل ځان معاينه کړئ هم د خپل ځان او هم د نورو د ځان د ژغورنی لپاره ګوندوم وکاروئ.

## سوزاک :

**- سوزاک څه شی دی؟** سوزاک يو ډول مکروبی عفونت دی چې د جنسي اړيکو له امله د

Neisseria gonorrhoeae باکتری په واسطه رامنځته کيږي .

**- دا څنګه انتقاليږی؟:** سوزاک د جنسي اړيکې پرمهال د تناسلی غړو، خولې يا مقعد د مخاطي غشا سره د تماس له لارې انتقاليږي. دا کيدايشی د واژينال، معقد، او يا د خولی د تماس له لارې انتقال شی. کيدای شی بغير د جنسی اړيکو په درلودلو، يوازې د تناسلی غړو د يوبل سره په تماس کې هم تاسو ورباندی اخته شئ.

**- نښې نښانی:** معمولی نښې يې د ادرار او ترشحاتو په وخت کې د سوځيدو احساس کول دی. ډيری خلک، په ځانګړې توګه ځوانې ميرمنې، پرته له دې چې د دی ناروغي نښې نښانې وګوري کيدايشی سوزاک ولرئي. چې په ميرمنو کې د فيلوپين ټيوب د التهاب يا د رحم ټيوب د ميکروبی کيدو خطر ډيروی. نارينه کيدايشی په اپيديديميت يا د بيضوپه التهاب باندی اخته شی. په بدترين حالت کې کيدايشی تاسوعقيم شی.

**- ولی درملنه اړينه ده؟** د ناروغی د خپريدو زرترزره مخنيوي او د جدي روغتيايی ستونزو مخنيوي لپاره درملنه خورا مهمه ده.

## کليميډيا:

- کليميډيا څه شی ده؟ کليميډيا يو جنسی عفونتی ليږددونکی ناروغی ده چې د کليميډيا د مکروبونو له امله رامنځته کيږی.

**- څنګه ليږدول کيږی؟ :** کليميډيا د تناسلي غړو، معقد او يا د ستونی د مخاطی غشا سره د مستقيم تماس له لارې يو بل ته ليږدول کيږی. دا کيدايشی د واژن، معقد، او يا د خولی د تماس له لارې انتقال شی. کيدايشی بغير د جنسی اړيکو په درلودلو، يوازې د يوبل سره د تناسلی غړو په تماس کې هم تاسو ورباندی اخته شئ.

**- نښې نښانی:** معمولی نښې يې د ادرارو په وخت کې د سوځيدو احساس کول ، ترشحات او د جماع څخه وروسته وينه راتلل او د ښځينه تناسلي غړوبهرنی برخه کې درد، دی. ډيری خلک، په ځانګړې توګه ځوانې ميرمنې، پرته له دې چې نښې نښانې وګوري کيدايشی سوزاک ولرئي. دا په ميرمنو کې د فيلوپين ټيوب يا د رحم ټيوب د ميکروبی کيدو خطرډيروی. نارينه کيدايشی په اپيديديميت يا د بيضو التهاب باندی اخته شی. په بدترين حالت کې کيدايشی تاسی عقيم شی.

**- ولی درملنه اړينه ده؟** د ناروغی د خپريدو د مخنيوي او جدي روغتيايي ستونزو د مخنيوي لپاره لومړنی درملنه اړينه ده.

## مخنيوی:

د جنسی عمل په جريان کې د ګوندوم کارول د سوزاک او کليميډيا په وړاندی ساتنه کوي.

ځوانان او زده کونې کولی شی په وړيا توګه ګوندوم د روغتيايی مرکزونو او د انترنيټ له لارې ترلاسه کړي.

www.gratiskondomer.no

### کله باید تاسو معاینه وکړی؟

که تاسو د نوي کس سره جنسي اړیکه درلوده او یا هم نا خوندي جنسي اړیکه درلوده او فکر کوئ چې تاسو ممکن په ناروغی اخته یاست، تاسو باید دوه اونۍ وروسته د سوزاک او یا د کلیمیډیا لپاره معاینه وکړی.

### معاینه څنګه ترسره کیږي؟

**- د ادرار معاینه:** نارینه کولی شي د ادرار د معاینه له لاری د کلیمیډیا او سوزاک معاینه کړي.

**- د سواب معاینه:** میرمني کولی شي د واژن څخه د سواب تست سره، معاینه وکړي. که اړتیا وي، نموني د ستوني او یا د معقد څخه هم اخیستل کیدای شي.

**- پایلې:** تاسو معمولاً د څو ورځو څخه تر یوې اونۍ پورې پایلې ترلاسه کوئ. که د معاینې پایله مثبته وی، تاسو به د درملنې په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

### د کلیمیډیا او سوزاک درملنه څنګه کیږي؟

**انتي بیوتیکونه:** د سوزاک او کلیمیډیا درملنه د انتی بیوتیکونو سره کیږی.

**- څارنه :** د درملني وروسته، مهمه ده چې معاینه ترسره شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې میکروبونه په بشپړه توګه له منځه تللی.

### تاسو چیرته خپل ځان معاینه کولی شی؟

### - د ځوانانو لپاره روغتیایی مرکزونه:

- [Helsestasjon for ungdom og studenter i Bergenhus/Årstad]
- [Helsestasjon for ungdom ved Nesttun helsestasjon]
- [Helsestasjon for ungdom ved Oasen helsestasjon]
- [Helsestasjon for ungdom i Arna og Åsane]

- **Skolehelsetjenesten**: hos helsesykepleier ved skolen din.
- **Poliklinikk for seksuelt overførbare infeksjoner** ved Haukeland Universitetssjukehus.
- ستاسو دایمی ډاکتر

### د دې معاینا تو لګښت څو دی؟

د سوزاک او کلیمیډیا معاینه او درملنه په بورته یاد شویو اړونده ځایونو کي وړیا ده.